رسول الله صلى الله عليه وسلم به هر لمانځه ته اودس کاوه

عمرو بن عامر له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کوي فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به هر لمانځه ته اودس کاوه، ما وويل: تاسو به څنګه کول؟ هغه وويل: زمونږ څخه به يو تن تر هغه پورې په - يو اودس سره لمونځونه کول - تر څو به يې چې اودس مات شوی نه و.

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هر فرض لمانځه لپاره اودس کاوه، اګر که اودس به يې مات شوی هم نه و؛ دا - کار به يې د - اجر او فضيلت د لاسته راوړلو په خاطر کاوه. په يوه اودس سره له يو فرض لمونځ څخه زيات لمونځونه کول روا دي، تر هغه وخته چې اودس ولري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65080

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee